



**د ادب او فرهنګ درنو او پتمنو مینه والو!**

**ګڼ شمېر دوستانو او د ادب مینه والو ماته سپارښتنه او سلامشوره راکړه، چې د خپل چاپ شوي نښير(اثر) «د ګاګرو کربښې- د پوهانو ژورې خبرې» منځپانګه او محتوا په خپل سایتونو او فیسبوکونو کې برخه برخه نشر کړم.**

**تاسو خوږو دوستانو او یارانو ته په هېواد کې د ننه او بهر د بېلابېلو پوهانو، فیلسوفانو، لویو او سترو عالمانو، غوره او پېژندل شویو لیکوالو لنډ ژوند لیکونه او د دوی گڼ شمېر پخې، مهمې، ژورې، گټورې خبرې او ویناوې وړاندې کوم.**

***

## خوشحال خان خټک:

دی د پښتو ژبې د ادبي، فرهنگي، سیاسي او ملي شخصیت په توگه یو لوی، نامتو او وتلی لیکوال، پیاوړی او غښتلی شاعر او د تورې او میړانې تلپاتی او ویاړلی اتل وو. اروانښاد خوشحال خان خټک د شهباز خان زوی، د یحیی خان لمسی او د ملک اکوړي کړوسی وو. خوشحال خان خټک د خټکو په یوه لویه او درنه کورنۍ کې پر (۱۰۲۲) هجری قمری کال چې له (۱٦۱۳) میلادي کال سره سمون خوري د اکوړي په سرای نومي ځای کې زیږدلی دی، او د( اټک) د مست او ځپاند سیند په غاړه لوی شوی دی.

خوشحال بابا په یوه شتمنه کورنۍ کې زیږیدلی او روزل شوی وو، پلار او نیکه یې تر ملک اکوړه پورې ټول خانان او قومي مشران وو، او د هندوستان د مغولي دولت په خوښه ملک اکوړه د وریښمو د تاریخي لارې ساتندوی وو. د شهباز خان له مرگه وروسته دا کار د خوشحال خان بابا په برخه شو.

خوشحال خان خټک تر شل کلنۍ پورې ډیر کتابونه ولوستل، د ده د شعر ویلو لوړ او ځپاند استعداد او وړتیا هم د اباسیند په ځیر په ځپو راغی او د زیاتې پوهې خاوند شو او ورسره یې په شل کلنۍ کې په شعر ویلو پیل وکړ او لومړنی شعر یې پر (۱۰۴۲) هجري قمري کال چې له (۱٦۳۰) میلادي کال سره سمون خوري بیان کړ او هغه شعر یې دا دی:

**عقل سل د مصلحت بندونه جوړ کا**

**چې د عشق سیلاب پرې راشي واړه نور کا**

***

خوشال بابا په خپل علمي، ادبي او فرهنگي ژوند کې هغه ځلانده ستوری، پوخ، پیاوړی او نامتو ادیب، ښه، تکړه نثر لیکونکی او ستر شاعر وو، چې په بېلابېلو شعري فورمونو کې لکه: قصیده، غزل، څلوریزې، مستزاد، قطعه، رباعي او نورو برخو کې یې خوندور او په زړه پورې شعرونه کښلي دي. خوشال بابا د خپل لوړ تخیل، ژور اندو فکر او د خپلې

زمانې د ډېرو علومو او څانګو د لوستلو له لارې په پښتو شاعرۍ کې د پښتو شاعرۍ نوي نوښتونه او بنسټونه کېښودل. دی په شعر او شاعرۍ کې د خپل ادبي سبک او ښوونځی استاد دی. نو ځکه پښتانه، ده ته د پښتو ژبې پلار وايي.

دی په پښتو او «دري-پاړسي» ژبو ښه او اوچت شعرونه لري، «عربي، پاړسي او انکو» ژبې يې ډېرې ښې زده کړې وې. ده پښتو نثر، د شعر له رنګه  راويست او د محاورې رنګ ته يې نژدې کړ. د ده په شعر او نثر کې د پښتو او پښتونولي احساس او رنګ، او د پښتني اخلاقو  ښايستونه، صفتونه او د پامور ارزښتونه نغښتې  دي، نو په دې وجه کولای شو ووايو چې دی مستحق د استاذۍ او مشرۍ دی، او د پښتو ژبې پياوړی او غښتلی نثر ليکونکی، وتلی ليکوال، پوخ شاعر، مؤرخ، څېړونکی او نامتو مؤلف ګڼل کيږي.

خوشال بابا د پښتو ژبې لوی اديب او شاعر او متفکر عالم او د ميرانې او تورې غښتلی اتل پر (۸۷) کلنۍ پر(۱۱۰۰) هجري قمري کال کې له دې فاني نړۍ څخه سترګي پټې کړې دي.

**دا هم د خوشحال خان ختېک ارزښتناکې، ګټورې او غوره خبرې او وېناوې:**

- د الله(ج) له وېرې د مومن د سترګو څڅېدلې اوښکې د جهنم اور هم ورکولی شي.

- هغه کس د ډېرې ستاينې وړ دی، چې خپل بار په چا نه اچوي، بلکې د بل بار وړي.

- ناځوانه خلک په خپل نسب وياړي او مېړونه په خپلو کارنامو.

- د زړه سوانده او رښتينيو انسانانو مخونه د سپرلي د ګل غوټيو په څېر تاند او غوړېدلي وي او د درواغجنو او بې رحمه خلکو څېرې د خزان سيلۍ وهلي او مړ ژوندي وي.

- څوک له طبيبانو دوا غواړي او څوک له درويشانو دعا، خو خدايه! ما هيڅا ته مه اړ کوه زه هر څه له تا غواړم.

- له رنځه ومرئ خو د احسان دارو مه خورئ.

- تمه مه کوئ، ځکه چې تمه که مرغی هم وکړي نو په دام کې ګيره شي.

- پلار د زوی په هنر ډېر وياړي، په هر کار کې د خپل زوی کاميابي غواړي، خو چې زوی بد شي او د پلار خبره نه مني، نو د زوی له بد خوی نه تل د پلار سترګې په اوښکو لمدې وي.

- زه د هغه انسان په خپلواکه فکر، بې غمه زړه او روڼ تندي وياړم، چې نه زر لري او نه زمين.

- ښځه، چې ښه خوی او ښايسته صورت ولري، نو په دې دنيا جنت دی.

- ښه معشوقه هغه ده، چې نه درواغجنه وي او نه قهرجنه، نه بد خوراکه او نه بد پوشاکه وي.

- کونډه چې ځان سینګاروي، زړه یې مېړه غواړي.

- پښتانه که کم عقله او کم همته نه وای، نو نن به په ټول هندوستان د دوی حکومت وئ، خو افسوس چې غافله دي.

- د هغه کس دې رب مخ تور کړي چې په یاري او دوستۍ کې په زړه غلا لري.

- د هغه کس ښادي نه شته، چې د پلار له حکمه سرغړونه کوي، بلکې ډېر بدمرغه دی او د خدای(ج) په عذاب به واوړي.

- څوک چې له خوبه په غرمو پورته کېږي، هغه له هر کاره پاتې وي.

- عاقلانو ته د نامرده سړي بریتونه او د موږک بریتونه یو شان ښکاري.

- دې ته مګوره چې پلانکی په یادو قرآن لولي ته د پلانکي عمل ته ګوره، چې څنګه دی، په زړه کې یې وېره شته او که نه.

- چې هوښیار وي، په دې خبره به پوه شي، چې وړی د وربشو ډوډۍ ښه په مینه خوري او ښه پرې لګي، خو چې موړ وي، نو هغه ته د سوچه غوړیو حلوا هم هېڅ ښکاري.

- چې مرې نو داسې ومره، چې خلک درپسې وژاړي او درپسې تل په دعا لاس پورته کړي، د مار او لړم غوندې مه مره، چې خلک دې په مرګ خوشحاله شي.

- زه د هغه انسان په خپلواکه فکر، بې غمه زړه او روڼ تندي وياړم، چې نه زر لري او نه زمین.

- څوک چې صبر نه لري، هغه حکمت نه لري.

- هغه کس په عقل خام دی چې خپل کسب پرېږدي او د بل په کسب پسې شي، دغه کس د یو کسب هم نه شي.

- د ګل یا ښه بوی وي او یا هم ښه رنګ، چې په دې دواړو کې یو هم نه لري نو ګل نه دی.

- د ناپوهانو په رښتیاوو کې هم ګټه نه وي، ځکه چې ټولې خبرې یې له خیره لرې وي. زار مې له هوښیارو خبرو کړې، چې دروغ او رښتیا یې د شکر غوندې خوند او مزه لري.

- د دین او دنیا لپاره پاک اوسئ، ځکه چې ناپاکه خلک په دین او دنیا دواړو باندې خوار وي.

- که په نفس قدم کېږدې نو سلطان به شئ.

- ښه سړی د چا بدو ته نه ګوري که بل سړی ورسره بد هم وکړي نو دی په بدل کې ورسره ښه کوي.

- په هر کار کې عقل قاضي کړه، چې کله څه خبره او یا څه کار کوئ، نو له عقل نه مشوره وغواړه، چې څه فتوای یې درکړه، هغه عملي کړه.

- که په مخکې دې زمری هم ولاړ وي، خو چې له سره تېر شوې او وېره دې له زړه وباسله، نو زمری درته هېڅ هم نه دی.

***

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادرمسعود**